# جاري ښوونځي ته د انتقال لپاره لارښووني

THE EDUCATION STATE

د نوي ښوونځي څخه لیدنه وکړئ او ډاډ لاسته راوړئ چي ستاسي ماشوم لپاره اشنا وي. ښوونځي ته د ورتګ او راتګ سفر تجربه کړئ.

که تاسي د ښوونځي څخه وروسته د خپل ماشوم د اخیستلو پلان لرئ، نو په وخت او ځای یې موافقت وکړئ. ځیني ښوونځي د ښوونځي څخه وروسته پاملرنه وړاندي کوي که تاسي ورته اړتیا لرئ.

معلوماتي غونډو کي ګډون وکړئ او خپل ماشوم وهڅوئ چي د لارښود فعالیتونو کي برخه واخلي.

وګورئ چي آیا ښوونځی د څو کلتورونو تعلیمي مرستندویه (MEA) لري چي ستاسي د ټولني په ژبه غږیږي.

که اړتیا وي د ژباړي وړیا خدماتو لپاره د خپل ماشوم ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. دا د ځیني فعالیتونو لپاره شتون لري.

ښوونځي ته خپل د اړیکي تفصیلات ورکړئ نو که اړتیا وي لدې لاري به تاسي سره اړیکه نیول شوني شي. د ښوونځي د اړیکي شمیره وپیژنئ.

د مهالویش یوه کاپي واخلئ نو تاسي به پوهیږئ چي ستاسي ماشوم کوم ټولګي لري. که ستاسي ماشوم غیرحاضر وي یا په ځنډ سره ورځي نو ښوونځي ته یې ووایی.

ښوونځي ته یې ووایی که ستاسي ماشوم کوم ځانګړي طبي شرایط یا ځانګړي اړتیاوي لري. که تاسي کومي اندیښني لرئ نو په اړه یې د ښوونځي سره خبري وکړئ.

مخکي لدې چي ښوونځی پیل شي، خپل د ماشوم د ښوونځي یونیفارم واخلئ. ځیني ښوونځي کارول شوي یونیفارمونه هم پلوري.

اړین کتابونه او قرطاسیه واخلئ – د نوملړ او ترلاسه کولو ځرنګوالي په اړه د ښوونځي څخه معلومات واخلئ.

د خپل ماشوم ټولو وسایلو لکه کالیو او توکو باندي د هغه نوم ولیکئ.

ممکن ښوونځی د زده کونکو څخه وغواړي چي لیپټاپ یا آی پاډ ولري. د ښوونځي څخه غوښتنه وکړئ چي ستاسي ماشوم به یې کوم ډول ته اړتیا لري.

صحي غواړه ورته بسته کړئ. ولټوئ چي آیا ښوونځی کانتین لري.

خپل ماشوم وهڅوئ چي د کورنی دندي کلبونو یا د ښوونځي څخه بهر نورو فعالیتونو کي ګډون وکړي.

که مالي مرستي ته اړتیا وي، نو د ښوونځي د لګښتونو پوره کولو په موخه د مالي ملاتړ لپاره د خپل ماشوم ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

د نورو معلوماتو لپاره دي ویب پاڼي ته ورشئ: **www.education.vic.gov.au/parents/going-to-school**

VICTORIA State Government | Education and Training

19-0008